مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

قاضی لودین ۲۰۲۶/۰۱/۱۶

# زما ارمان , زما وطن!!

وطن؛ هغه فریاد دی چې په چوپتیا کې ژاړي , ځیني چیغې غږ نه لري، خو آسمان لړزوي. ځیني اوښکې نه ښکاري، خو زړه ډوبوي. او ځیني دردونه داسي وي چې انسان يې نه شي ويلی، ځکه که یې ووايي، خپله به مات شي.
دا درد د وطن درد دی.
وطن یوازې یو نوم نه دی، وطن د انسان د ساه معنی ده. هغه څوک چې وطن ولري، که هر څومره بېوسه هم وي، بیا هم شتمن دی. خو هغه څوک چې له وطنه بېل شي، که هر څه ولري، بیا هم تش لاسه دی.
ما خپل درد په ژبه نه دی بیان کړی، ځکه ژبه مي ورسره تنګه ده.
ما خپل درد په قلم نه دی لیکلی، ځکه رنګ یې د کاغذ لپاره درونډ و.
ما خپل درد په خپله وینه لیکلی دی , او بیا مې په اوښکو لمد کړی دی.
ما دا لیکونه په مات زړه پوستي صندوق ته اچولي، خو دا لیکونه هیڅکله منزل ته ونه رسېدل، ځکه دا د پتو لیکونه نه وو، دا د زړونو لیکونه وو. ما دا لیکونه خلکو ته نه، بلکې خپل وطن ته لېږلي وو.
لس کاله کېږي چې مهاجر یم, لس کاله کېږي چې زما ساه نیمه ده, لس کاله کېږي چې زه ژوند کوم، خو ژوندی نه یم.
غربت انسان ورو ورو وژني؛ لومړی یې خندا اخلي، بیا یې خوب، بیا یې باور، او په پای کې یې روح. هره شپه چې ویده کېږم، کابل مي خوب ته راځي. کوڅې یې غږ کوي، دېوالونه یې راته ګوري، او زه له خوبه په اوښکو ویښ شم. د هلمند د سیند شور مي د زړه په تل کې بند پاتې دی.
د کندهار د انارو خوند مي لا هم په خوله کې ژوندی دی.
د هرات شکلا او دغور د جام منار مي د سترګو له حافظې نه دی وتلی.
د بلخ شین اسمان مي د روح پر تندي لیکل شوی.
د ننګرهار د نارنجو ګلان، د نرګسو خوشبویه منظرې، زما د ساه برخه ګرځېدلي دي.
د پکتیا د درنو مشرانو هغه تود هرکلی، مېلمهپالنه او محبت، او د مرستیال والي محترم ښاغلي عبدالولي سهي صاحب عزت او قدرونه مي تر ننه د زړه له حافظې نه دي وتلي. دا یادونه زما د ژوند له تر تولو ارزښتناکو شیبو څخه دي.
د بدخشان، تخار، د سمنګان د تخترستم، او د کنړ د محترم والي ښاغلي شجاعالملک جلاله صاحب . او قدرمن والی صاحب فضل الله واحدی,
همدارنګه د قدرمنو او بااحساسه څېرومحترم والی صاحب عبدالجبار تقوي، محترم والی صاحب عبدالطیف ابراهیمي،محترم والی صاحب امین، محترم والی صاحب ننګ او محترم والی صاحب فدایي، او د بغلان او کاپیسا د محترمو والیانو او مرستیالانو مینه، شفقت او ريښتینی اخلاص تل زما په زړه کې ژوندي پاتې دي.
دغه راز د لغمان دوالی صاحب محترم عبدالجبار نعیمي بېساری اخلاص، ژوره مهرباني، او د پنجشیر د محترم والي صاحب ترځنګ د پنجشیر د باعزته ولس مینه، ملاتړ او نه ستړي کېدونکي قرباني زما له روحه نه بېلېدونکي دي. دا سپېڅلې میني زما د ژوند د لارې تلپاتې رڼا او الهام دی.
همدارنګه د دایکندی، بامیانو، سرپل، جوزجان، فاریاب او پروان د محترمو والي صاحبانو، په ځانګړي ډول د جناب محترم والي صاحب عبدالبصیر سالنګي او محترم والي صاحب انجینیر محمد عاصم، او د هغوی د قدرمن ولسونو او درنو مسؤلینو څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې د اخلاص، همکاری او صمیمانه رهنمایی له لارې یې هر ګام کې زما لاسنیوی کړی دی.
دا ټولې خاطرې د ورورولی، اخلاص او ریښتیني مینې څرګندونه کوي، چې د هېواد له بېلابېلو سیمو سره مې زړه تړلی ساتي. د هر ولایت مشران او درانه شخصیتونه د قدر او درناوي وړ دي، او د هغوی نېک چلند او صمیمیت د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تل لپاره په یاد پاتې کېږي. همدا مينه، همکاري او يووالی زموږ اړيکي لا پياوړې کوي او د راتلونکي لپاره هيلي راژوندۍ ساتي.
زه دلته یم، خو زه دلته نه یم , زما بدن په پردۍ خاوره کي دی، خو زما روح لا هم هلته دی, هلته چي زما دمور او پلار وطن دی.
ای افغانستان!
ته یوازې خاوره نه یې، ته زما مور يې , ته زما پلار يې، ته زما د ويني هر څاڅکی يې , ته هغه ټپه يې چي زما زړه پرې ټپي دی.
په غربت کي شپې اوږدې وي، خو سهارونه تر شپې هم دردناک وي. انسان چي سهار ويښ شي او پوه شي چي لا هم پردی دی، دا تر مرګه دروند احساس دی.
هره ساه چي اخلم، ستا نوم پکې دی.
هره ضربه چي زړه مي وهي، ستا لپاره ده , زه له تا پرته نيم انسان يم، نيم روح، نيم ژوند.
که دا بدن هم يوه ورځ په پردۍ خاوره کي خاورې شي، که زما نوم هم د پرديو په ژبه پاتې شي، خو زما روح به ستا غرونه لټوي، ستا دښتو ته به ورګرځي، ستا خاوره به يې ارام کړي.
ځکه وطن هغه مينه ده چي نه مري , وطن هغه درد دی چي نه رغېږي.
وطن هغه ارمان دی چي تر مرګه ژوندی وي.
له تا پرته، ای افغانستانه، دا مات شوی، سوځېدلی زړه بيا څوک ژوندي کولای شي؟
څوک کولی شي چي د مهاجر د زړه دا دروند بار سپک کړي؟
نه...هيڅوک نه. هيڅکله نه.
اې لويه خدايه!
د هغو زړونو ژړا واوره چي د وطن په نوم ټوټې ټوټې شوي دي.
د هغو سترګو اوښکي ومنه چي د خپلي خاورې په ارمان وچې شوې دي.
اې الله!
موږ ته هغه ورځ راولې چي : يو ځل بيا د خپل وطن خاوره پر تندي کېږدو،
يو ځل بيا د خپل وطن اسمان ته په امن وګورو، او يو ځل بيا د کور کلمه په درد ونه وايو.
اې الله!
موږ بېرته خپل وطن ته ورسوې.
او زموږ وطن ته بېرته سوله، عزت او رڼا ور وبخښې.
آمين يا رب العالمين.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ